IMMIGRANT LEGAL ADVOCACY PROJECT

# د افغانستان لپاره د لنډمهاله محافظت حالت:
# (TPS, Temporary Protected Status for Afghanistan)
## په Maine کې د OAW مشروط اجازه لرونکي افغانانو
## او د نورو افغانانو لپاره تازه لارښود

وروستی ځل تازه شوی: د 2023 فبروري په 7

*دا مشوره یوازې عمومي بڼه لري، قانوني مشوره نده، او د مهاجرت د متخصص مشورې ځای نشي نیولی.*

---

## عمومي معلومات:

### TPS څه شی دی؟

TPS خلکو ته د ایستل کیدو څخه لنډمهاله محافظت، قانوني حالت، او د کار جواز لپاره د غوښتنه کولو وړتیا (د کار جواز سند) ورکوي. د افغانستان د TPS اوسنی تخصیص د 18 میاشتو لپاره دی او د 2023 نومبر په 20 نیټه پای ته رسیږي. هغه وخت کې د امریکا متحده ایالاتو حکومت کولی شي چې TPS وغزوي یا یې پای ته ورسوي.

### د افغانستان د TPS لپاره غوښتنه کولو اخرنۍ نیټه کومه ده؟

د افغانستان د TPS لپاره د غوښتنه کولو اوسنۍ اخرنۍ نیټه د 2023 نومبر 20 ده.

### د افغانستان TPS لپاره شرایط څه دي؟

تاسي د افغانستان TPS لپاره په شرایطو برابر یې که:

- تاسي د افغانستان تبعه یې
- تاسي د 2022 مارچ 15 یا د مخکې څخه د امریکا متحده ایالاتو کې یې
- **یادونه:** ځیني جرمونه او نور عوامل تاسي د TPS لپاره په شرایطو نه برابر ګرځوي

### د TPS لپاره غوښتنه کولو لپاره زه کومو اسنادو ته اړتیا لرم؟

د TPS لپاره غوښتنه کولو لپاره، تاسي اړتیا لرئ:

- د افغانستان پاسپورټ، د زیږون تصدیق، ملي پیژندپانه، (یا نور شواهد چې تابعیت وښئ که چیرې دا اسناد موجود نه وي)؛
- ویزه، حتی که نیټه یې هم تیره شوې وي، د پاسپورټ مهر، NTA، یا د مهاجرت نور اداري اسناد؛
- نور اسناد چې وښئ تاسي د 2022 مارچ 15 راهیسې د امریکا متحده ایالاتو کې یې، لکه طبي ریکارډ، کرایه، د معاش رسیدونه، یا د ښوونځي ریکارډ او سوانح؛
- د نیول کیدو، تورونو، او جرمي محکمې کیسونو لپاره ریکارډ او سوانح کوم چې تاسي ممکن په کوم وخت کې د امریکا متحده ایالاتو کې درلودلي وي.

ILAP
IMMIGRANT LEGAL ADVOCACY PROJECT

### زه نور په څه شي پوهيدلو ته اړتيا لرم؟

د درغلی او هغه خلکو څخه ځان باخبره وساتئ څوک چې د مهاجرينو څخه د پيسو ترورلو په خاطر داسي ادعاوي کوي چي ګويا هغوی کولی شي د مهاجرت کيسونو کې مرسته وکړي. دلته پدې اړه نور معلومات وګورئ چې څنګه خپل ځان محافظت کړئ: https://ilapmaine.org/protect.

---

## د OAW مشروط اجازه لرونکي افغانان:

*لاندي معلومات د متحدانو د هرکلي عملياتو (OAW, Afghan Operation Allies Welcome) په لړ کې راغلي مشروط اجازه لرونکي افغانانو سره د دې پريکړې کولو کې د مرسته کولو لپاره دي چې آيا او کله د لندمهاله محافظت حالت (TPS) لپاره غوښتنه وکړي. د ډيری OAW مشروط اجازه لرونکي افغانانو لپاره مشروط اجازه او هغې پورې تړلي د کار جواز اسنادو (EADs, Employment Authorization Documents) نېټه د 2023 سپټمبر يا اکتوبر کې پوره کيږي او د همدې لپاره ممکن تاسي اړتيا ولرئ له اوس څخه پلان جوړول پيل کړئ ترڅو د کار جواز کې پيدا کيدونکي تشي څخه ډډه وشي.*

### آيا د OAW مشروط اجازه لرونکي افغانان بايد پدې وخت کې د TPS لپاره غوښتنه وکړي؟

د هغوی لپاره چې تراوسه يې پناه، د ځانګړي مهاجرت ويزه (SIV, Special Immigrant Visa)، يا ګرين کارت ته کومه بله لاره ندې ترلاسه کړي، TPS ممکن غوره انتخاب وي چې له مخي يې تاسي وکولی شئ کار کولو ته د دوام ورکولو لپاره ډاډمن شئ کله چې د امريکا متحده اياﻻتو کې ستاسي مشروط اجازه او د ساتل کيدو حالت نيټه پای ته ورسيږي.
ټول مهاجرين اړ دي د کار کولو لپاره د کار معتبر جواز ولري. ستاسي د مشروط اجازې او د EAD کارت د انقضاء نيټي په پام کې نيولو سره، تاسي ممکن اړ اوسئ سر له اوسه پلان کول پيل کړئ ترڅو د کار جواز کې د تشي څخه ډډه وکړئ. ILAP سپارښتنه کوي چې ستاسي د مشروط اجازې او د TPS د اخرنی نيټي څخه لږترلږه شپږ مياشتي مخکې غوښتنه وکړئ.

### زه ولي د TPS لپاره غوښتنه وکړم که چيرې د 2023 نومبر په 20 يې نيټه پای ته رسيږي؟

د قانون له مخي، د امريکا متحده اياﻻتو حکومت ممکن TPS وغزوي پداسي حال کې چې په يوه هيواد کې اوضاع خطرناک وي کوم چې د امريکا متحده اياﻻتو کې د نوموړي هيواد موجود اتباع بيرته خوندي ستنيدل نا ممکن کوي. تر کوم وخت پورې چې خطرناک وضعيت موجود وي TPS د -6، -12، -18 مياشتو مودې پورې ممکن وغزول شي.

د امريکا متحده اياﻻتو حکومت ممکن TPS د 2023 نومبر 20 څخه ورهاخوا وغزوي (مګر مکلف ندی چې دا کار وکړي). مشروط اجازه داسي يو حالت ندی چې عموماً د امريکا متحده اياﻻتو قانون له مخي دې بياځل نوی شي. د همدې لپاره، TPS د هغه مشروط اجازه لرونکي افغانانو لپاره غوره انتخاب دی څوک چې لاهم د امريکا متحده اياﻻتو کې دايمي وضعيت نلري.

### که زه چيرې واردمخه د يوه وکيل يا معتبر استازي سره کار کوم نو څه؟

که تاسي واردمخه د پناه، SIV، يا د مهاجرت نورو کيسونو وکيل يا معتبر استازي سره کار کوئ، نو د TPS لپاره د غوښتنه کولو څخه مخکې هرو مرو د هغوی سره مشوره وکړئ.

---

## هغه افغانان چې د 2022 مارچ 15 څخه وروسته د امريکا متحده اياﻻتو ته راغلي دي:

هغه افغانان چې د 2022 مارچ 15 څخه وروسته راغلي، هغوی د افغانستان اوسني TPS تخصيص لاندې په شرايطو برابر ندي. د امريکا متحده اياﻻتو حکومت ممکن د TPS شرايط تازه کړي ترڅو هغه خلک چې د 2022 مارچ 15 څخه وروسته راغلي هغوی وکولی شي غوښتنه وکړي (مګر مکلف ندی چې دا کار وکړي). د افغانستان TPS په اړه معتبر معلوماتو لپاره د امريکا متحده اياﻻتو حکومت او د مهاجرت قانوني خدمتونو وړ سازمانونو تازه معلومات وګورئ. ټول افغانان بايد وړ قانوني مرسته ولټوي ترڅو هغوی سره د هغوی مهاجرت انتخابونو باندې پوهيدلو کې مرسته وکړي، د دې په پام کې نيولو پرته چې هغوی کله د امريکا متحده اياﻻتو ته راغلي دي.

دا سرچينه په https://ilapmaine.org/ کې موجود ده. وروستی ځل تازه شوی: د 2023 فبروري په 14.